موانع لیرې کړئ. فضیلت ته ورسئ.

ډاکټر کیمبرلي یانګ ویلکیم، د ښوونځیو لنډمهاله سرپرست

د مارچ 23، 2017

د الباني ښار د ښوونځي ولسوالی ښاغلي اوسیدونکو:

د الباني ښار د ښوونځي ولسوالی په ټول آیالت کې د دولتي یا عامه ښوونځي ولسوالیو په څیر د 2017 پسرلي کې د 8-3 ټولګیو زده کونکو لپاره د آیالت ازموینې چمتو کوي. زه د دې لپاره تاسي ته لیکم چې د انګلسي ژبې هنرونو (ELA)، ریاضي او ساینس ازموینو د نیټو یادونه تاسي وکړم او زموږ د ټولو زده کونکو په ګټه مرستندویه معلومات وړاندې کړم.

- **د آیالت د ELA ازموینه به د مارچ په 30-28 وي**
- **د آیالت د ریاضي ازموینه به د مۍ په 4-2 وي**

د 4ام او 8ام ټولګي زده کونکي هم د نیویارک د آیالت په کچه ساینس ازموینه کې هرکال ګډون کوي. د دغه ازموینې د فعالیت (لابرتوار) برخه به د مۍ 24 او جون 2 ترمینځ ستاسي د وداني مدیر لخوا مشخص شوي یوه ورځ کې ورکړل شي. د 4ام ټولګي او د 8ام ټولګي ټول زده کونکي به د آیالت ساینس ازموینې لیکلي برخه د جون په 5 ترسره کړي.

لکه څنګه چې د دې کال ازموینې رانبردې شوي دي، مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د نیویارک آیالت په کچه ټولي ازموینې پدې توګه ډیزاین شوي چې وارزول شي زده کونکي څومره ښه د زده کړې هغه معیارونه زده کوي چې د ټولګي د زده کړي لارښود کوي. د آیالت موخه د دې داډ ترلاسه کولو کې مرسته کول دي چې زده کونکي د نن ورځې نړۍ کې د بریا لپاره اړین حساس فکر، د ستونزو حل کولو او مناسب مهارتونو سره د لیسې څخه فارغیدو لپاره په سمه لار روان دي.

هیڅ یوه ازموینه هم نشي کولی د یوه ماشوم د وړتیاو بشپړ انځور وړاندې کړي. مګر کله چې د ټولګیو، صنفونو فعالیتونو، د واحد پوښتنو او ازموینو، او د ولسوالی په کچه د NWEA په څیر ارزونو سره ترکیب شي نو د آیالت کلنۍ ازموینې کولی شي د ماشوم اکاډمیک پرمختګ په اړه مهم معلومات وړاندې کړي.

موږ خپل ټول زده کونکي هڅوو چې په ښوونځي کې د هرڅه ترسره کولو کې خورا ښه زحمت وباسي، پشمول د آیالت دې کلنیو ازموینو. تاسي کولی شئ خپل ماشوم ملاتړ کړئ پدې توګه چې داډ ترلاسه کړئ د هرې ازموینې څخه وړاندې شپه هغه ښه او پوره خوب وکړي، او ورځ د صحي ناري سره پیل کړي. مهرباني وکړئ د نورو معلوماتو او اضافي سرچینو لپاره د www.albanyschools.org څخه لیدنه وکړئ. که تاسي کومې پوښتني یا اندیښني لرئ، نو مهرباني وکړئ خپل د وداني مدیر سره اړیکه ونیسئ.

په درنښت،

Ed.D ،کیمبرلي یانګ ویلکینز
د ښوونځیو لنډمهاله سرپرست

1 اکاډمي پارک • الباني، نیویارک 12207
تلیفون: 475-6010 (518) • فکس: 475-6014 (518)
بریښنالیک: KWILKINS@ALBANY.K12.NY.US